# قرآني بيان

# دِين او قُرباني

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

**04-July-2025**

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ **4** جولائي، کال **2025**ء (**8** مُحَرّمِ الحَرام، کال **1447**هـ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# دِين او قُرباني

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مخکښينو اُمتونو تکليفونه
- عظيمه قُرباني، ځانګړے اِنعام
- د دواړو جهانو د سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قرباني
- د مبلغينو قبرونه به ځليږي

پيشکش

اَلۡمَدِيۡنَةُ الۡعِلۡمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback* :+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د دواړو جهانو تاجدار، مكي مَدَني سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: كنجوس دے هغه كَس د كوم په مخكښې چې زما ذِكر وشي او بيا هغه په ما بانديې درود اونۀ لولي۔ (1)

پڑھتا رہوں کثرت سے درود اُن پہ سَدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَ الضَّرَّآءُ وَ زُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د آيت مبارک شانِ نزول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه د 2 سيپارې، د سورۀ بَقَرَه، د آيت: 214 د اوريدو

1...ترمذی، کتاب الدعوات، باب قول رسول الله رغم انف...الخ، صفحه: 811، حديث: 3546۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه: 114۔

سعادت حاصل کړو- علمائے کرام فرمائي: غزوۀ اَحزاب (کومه چې پۀ کال 5 هجرۍ کښې شوي، پۀ دې) کښې مسلمانان د سختو تکليفونو سره مخ وو ❁ د سختې يخنۍ موسم وو ❁ د خوراک کمے وو ❁ صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د سختې لوږې پۀ وجه پۀ خېټو پورې کاڼي ترلي وو ❁ او پۀ داسې حالت کښې يې خندق (يعنې ژورې کندې) کنستلې ❁ د دې سره سره د سخت دښمن سره هم مخ وو ❁ او پۀ مدينه منوره کښې دننه موجودو غير مسلمو او منافقانو هم سازشونه کول-

لکه چې پۀ مسلمانانو باندې د څلورو وارو طرفونو نه تکليفونه راغلي وو، پۀ دې موقع باندې دا آيت مبارک نازل شو، پۀ کومو کښې چې مسلمانانو ته د مخکښينو اُمتونو حالات بيان سره صبر ورکړے شو- (1)

## د آيت مبارک مختصر وضاحت

نو ارشاد دے:

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَ لَمَّا یَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِیْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَ الضَّرَّآءُ وَ زُلْزِلُوْا حَتّٰى یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ ﴿۲۱۴﴾
(پاره:2، سورۀ البقرة:214)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: آيا ستاسو دا ګمان دے چې جَنَّت ته به داخل شئ حالانکې پۀ تاسو باندې د مخکښينو خلقو پۀ شان حالت نۀ دے راغلے- هغوئي ته سختې او شِدت ورسيدو او هغوئي پۀ زوره زوره وړقولے شو تر دې چې رسول او هغۀ سره ايمان والؤ ووئيل: د اللّٰه مدد به کله راځي؟ واورئ! بے شکه د اللّٰه مدد نزدې دے-

يعنې اے مسلمانانو! آيا تاسو دا ګڼلې ده چې د جنَّت پۀ شان اعلیٰ نعمت به داسې بغير د محنت نه حاصل کړئ، اوس خو لا پۀ تاسو باندې هغه مصيبتونه نۀ دي راغلي کوم چې پۀ

1...تفسير نعيمى، پاره:2، البقرة، زيرِ آيت:214، جلد:2، صفحه:369 خلاصةً۔

مخکښينو خلقو باندې راغلي وو ❀ هغوئي ته ډير تکليفونه ورسيدل ❀ او هغوئي ولړزولے شول ❀ هغوئي بيا بيا د سختو ازميښتونو سره مخ شو ❀ د دغه تکليفونو سخت والے دې حد ته ورسيدو چې فرمانبرداره مؤمِنان او د هغوئي رسول هم نا قراره شول او چغه يې کړه چې اے رَبِّ کريمه! ستا مدد به کله راځي؟ حالانکې رسولان خو ډير صبرناک وي۔

اے مسلمانانو! په هغوئي باندې دومره سخت تکليفونه راغلل، د دې باوجود هغوئي په دِين باندې قائم پاتې شول، د دُنيا هيڅ يو مشقت، مصيبت، هيڅ يو تکليف د هغوئي حال بدل نکړے شو، لهذا اے مسلمانانو! تاسو خو د هغه اُمتونو نه افضل يئ، تاسو له پکار دي چې د صبر ښه نمونه پيش کړئ او په يو صفت کښې هم د هغوئي نه وروستو پاتې نۀ شئ۔۔۔!! (1)

## د مخکښينو اُمتونو تکليفونه

په **بخاري شريف** کښې حديثِ پاک دے: صحابئ رسول حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خانه کعبې سورې ته خپل څادر مبارک ته ډډه وهلې وه او تشريف فرما وو، مونږه عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! (په مونږ باندې څومره تکليفونه راغلي دي) تاسو زمونږ د پاره دُعا ولې نۀ کوئ؟ په دې باندې مکي مَدَني سلطان، رحمتِ عالميانِ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ❀ ستاسو نه په مخکښينو (خلقو باندې ډير مصيبتونه راغلل، هغه خلقو دپاره به) په زمکه کښې کندې کنستلے شوې او په هغې کښې به ښخولے شول ❀ په آره باندې به ريبلے شو او دوه ټوټې کولے به شو ❀ د اوسپنې په ګمنځو به د هغوئي غوښې راشوکولے شوې خو په دې کښې به هيڅ مصيبت هغوئي د هغوئي د دِين نه نشو منع کولے۔ (2) (لهذا لکه څنګه چې هغوئي صبر وکړو، هُم داسې تاسو هم صبر وکړئ! بے شکه د الله پاک مدد نزدې دے)۔

---

1...تفسير نعيمى، پاره:2، البقرة، زيرِ آيت:214، جلد:2، صفحه:370 خلاصةً۔

2...بخارى، كتاب المناقب، باب علامات النبوة فى السلام، صفحه:918 حديث:3612 بتغير قليل۔

## خلق مسلماني اسانه ګڼي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ دې آيت مبارک کښې مونږ له دا درس راکړے شوے دے چې د دِين پهٔ لاره کښې مشکلات راځي، پهٔ دې باندې تلونکو ته به قربانۍ ورکول وي، بيا اوچت مقامات ميلاوېږي، ځکه هر مسلمان له پکار دي چې د اللہ پاک پهٔ لاره کښې د تکليفونو برداشت کولو او د مال او ځان وغيره د هر څهٔ قربانولو د پاره هر وخت تيار اوسي- هم دا خبره پهٔ يو بَل آيت کښې هم اِرشاد شوي ده، فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَكُوْۤا اَنْ یَّقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا وَ هُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ(۲)<br>(پاره:20، سورۂ العنکبوت:2) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا خلقو دا ګڼلې دي چې هغوئي به صرف پهٔ دومره خبره باندې پرېښودے شي چې هغوئي وائي: "مونږه ايمان راوړلو" او د هغوئي ازميښت به نهٔ اخستلے کېږي؟ |

معلومه شوه چې د مسلمانانو د هغوئي د ايماني قوت مطابق امتحان اخستل، د اللہ پاک قانون دے، بيماري، ناداري، غريبي، مصيبتونه، دا ټول د اللہ پاک د طرف نه راتلونکي ازميښتونه دي، پهٔ کومو چې د مخلصه مسلمانانو او د منافقانو ترمينځه فرق واضحه کېږي-[1]

يہ شہادَت گہِ اُلفَت میں قَدَم رکھنا ہے | لوگ آسان سمجھتے ہیں مسلماں ہونا

## ژوند څهٔ ته وئيلے شي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا خبره هميشه ياد ساتئ چې ژوند صرف د ساه اخستو نوم نهٔ دے، ډاکټر اِقبال د ژوند حقيقت ډېر پهٔ واضحه انداز کښې بيان کړے دے، وائي:

بَر تَر اَز اندیشۂ سُود و زِیاں ہے زِندگی | ہے کبھی جاں اور کبھی تسلیمِ جاں ہے زندگی

1...تفسير صراط الجنان، پاره:20، العنکبوت، زير آيت: 2، جلد:7، صفحه: 342 بتغير قليل-

وضاحت: يعني ژوند د کټې او د تاوان د انديښنو نه برا يو څيز دے، کله د ساه اخستو او د ژوندي پاتې کيدو نوم ژوند وي او کله د محبوب د رضا د پاره د سر قربانولو نوم ژوند وي۔ غرض دا چې اصلي څيز د الله پاک رضا ده ❁ تر څو پورې چې په ساه اخستو کښې د هغهٔ رضا وي، تر هغه وخته پورې ساه اخستل ژوند دے ❁ تر څو پورې چې په خوشحاله اوسيدو کښې د هغهٔ رضا وي، تر هغه وخته پورې خوشحاله اوسيدل ژوند دے ❁ تر څو پورې چې په مشکلاتو زغملو کښې د هغهٔ رضا وي، تر هغه وخته پورې مشکلات زغمل ژوند دے ❁ او تر څو پورې چې په سَر قربانولو کښې د الله پاک رضا وي، هغه وخت سر کټ کول ژوند دے۔ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ یُّقْتَلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌؕ بَلْ اَحْیَآءٌ وَّ لٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ(۱۵۴) (پاره:2، سورهٔ البقرة:154)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او څوک چې د الله په لاره کښې قتل کړے شي هغوئي ته مړهٔ مهٔ وايئ، بلکې هغوئي ژوندي دي خو تاسو د هغې شعور نهٔ لرئ۔

هم دا هغه بنيادي سبق دے کوم چې مونږ ته د کربلا نه حاصليږي، اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله دُنيا ته تشريف راوړو، حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مبارکۍ ورکولو د پاره حاضر شو، او ورسره يې د شهادت خبر هم ورکړو۔ (1)

د هغوئي د شهادت خبرونه مشهور وو، اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تقريباً تر 56 کالو پورې په دُنيا کښې تشريف فرما وو، (2) بيا چې کله د دِين د پاره د قربانۍ ورکولو وخت راغلو، هغوئي په صبر سره، د الله پاک په رضا باندې په راضي کيدو، ډير په بهادرۍ سره سَر پريکړو، لکه تر څو پورې چې په ساه اخستو کښې د الله پاک رضا وه، تر هغه وخته پورې

1…مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، باب اول فضائل…الخ، جلد:4، صفحه: 171، حديث:4871 ماخوذًا۔
2…سوانح کربلا، صفحه: 170 ماخوذًا۔

هغوئي ژوندي وو، چې کله د سر په کټ کيدو کښې د الله پاک رضا وه نو هُغه وخت هغوئي خپل سر قربان کړو، هغوئي چې تقريباً کوم 56 کاله تير کړه، هُغه هم ژوند وو او چې کله يې سر کټ کړو نو دا هم ژوند دے، هغوئي مخکښې هم ژوندي وو او د الله پاک قرآنِ پاک وائي چې هغوئي اوس هم ژوندي دي-

حُسَيْن ايک علامت ہے زِندگی کے لئے | حُسَيْن عَزْمِ سَفر ہے مُسَافری کے لئے

يو بَل شاعِر وئيلي دي:

فِطرت کی مصلحت کا اشارہ حُسَيْن ہے | قربانيوں کی آنکھ کا تارا حُسَيْن ہے
وہ اس لئے لڑے کہ ستم کو مِٹا سکيں | پھر کيوں نہ ہم کہيں کہ ہمارا حُسَيْن ہے

## دا جان خو راتلونکے تلونکے دے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دلته دا خبره هم ياد ساتئ چې په اِسلامي تاريخ کښې کربلا ډير اهميت لري، اِسلامي تاريخ تر هُغه وخته پورې پوره کيږي نۀ تر څو پورې چې پکښې د کربلا ذِکر ونکړے شي خو--!! د کربلا دا اهميت صرف دې د پاره نۀ دے چې د کربلا په ميدان کښې په اهلِ بيتِ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم باندې ظلم شوے وو، د کربلا اصلي اهميت د اِمام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حوصلې سبب دے، د اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هُغه حوصله، هُغه اِستقامت، هُغه صبر او رضا د کومې چې هغوئي په کربلا کښې مثال قائم کړو، هُغه صبر، اِستقامت او حوصله په اصل کښې کربلا يادګاره جوړوي-

جس دھج سے کوئی مقتل ميں گيا، وہ شان سلامت رہتی ہے
يہ جان تو آنی جانی ہے، اس جاں کی تو کوئی بات نہيں

شهيدان په دُنيا کښې نور هم ډير دي، راتلونکي وخت کښې به هم کيږي خو اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهيدانو سردار جوړوونکے چې کوم څيز دے، هغه د هغوئي دا شان دے، د هغوئي حوصله ده، د کومې سره چې هغوئي د کربلا ميدان ته کوز شوي وو-

## د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شهادت مختصر بیان

❁ تاسو لږ غور وکړئ چې 10 مُحَرّم الـحَرام، د جُمعې ورځ ده، اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خپل ځامن، وريرونه، خپل وروڼه او نور تقريباً د 72 شهيدانو لاشونه خپلې خيمې سره ايښودي دي ، هغه کوم چې په خپلو ښپو ميدان ته تللے شو، اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغوئي ميدان ته وليږل او قربان يې کړل او حضرت علي اَصغر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کوم چې په خپلو ښپو نۀ شو تللے، اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغوئي په خپلو لاسونو مبارکو کښې اوچت کړو او يوړو يې، د هغوئي قرباني يې هم ورکړه، بيا په خيمو کښې صرف پرده دارې زنانه وې او يو بيمار شهزاده حضرت اِمام زِين العابِدِين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وو، د دريو ورځو نه وږے او تږے دے، ځيګر يې زخمي زخمي دے، په سر باندې يې د تڪليفونو انبار دے، په داسې حالت او داسې کيفيت کښې سلطانِ کربلا، اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د جنګ جامې واغوستې، د خپل نيکه بابا جان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمامه شريفه يې په سر کړه، د حضرت امير حمزه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډال يې په خپله ملا مبارکه پسې وتړو، د خپل والِدِ محترم حضرت علي الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ توره يې راواخسته او په ځانګړې شان سره اِک يواځې، د هر څۀ د قربانولو نه پس خپل خوږ ځان هم د حق په لاره کښې د قربانولو د پاره د کربلا د ميدان طرف ته روان شو-

اَللّٰهُ اَکْبَر! د پرده دارو سيد زادګو فِکر هم ورسره دے، مخې ته يې 20 زره لښکر هم دے، تنهائي هم ده، د خپل کور کلي نه لرې هم دے، لوږه او تنده هم ده، د دې باوجود اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خپله فيصله باندې ستومانه نۀ دے، په تندي مبارک باندې يې هيڅ راکوت والے نشته، په ژبه مبارکه يې ګيله خو غټه خبره ده چې په زړۀ کښې يې هم څۀ شکايت نشته، صبر، استقامت، زغم، برداشت او رضا يې په مخ صفا ځليږي، اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خيمې نه د روانيدو په وخت هم پرده دارو زنانۀ ته د صبر او رضا تلقين وکړو او چې کله د کربلا ميدان ته ورسيدو نو اخري خطبه يې ارشاد

کړه، د دې خطبې په اخره کښې هم هغوئي دا وفرمائيل: وَالْحُكْمُ لِلّٰهِ وَ رَضِيْنَا بِقَضَاءِ اللّٰهِ حکم او فيصله هم د الله پاک ده او مونږه د الله پاک په فيصله باندې راضي يو۔ (1)

په روايتونو کښې دي چې: د جنګ په وخت د اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مخ مبارک په غشي باندې ولګيدو، د خُلې نه يې وِينې رواني شوې، هغوئي هٰغه وِيني په لاس کښې راواخستې، موټے يې ترينه ډک کړو، هغوئي هٰغه وينه د اسمان طرف ته ګزار کړه او اوئې وئيل: اے الله پاکه! دا ستا د نبي د لور د ځوي وينه ده، زۀ د دې بدله غواړم۔ راوي وائي: د دغې وينې يو څاڅکے هم زمکې ته واپس رانغلو۔ (2)

| | |
|---|---|
| ہزاروں میں بہتّر تن تھے تسلیم و رضا والے | حقیقت میں خُدا اُن کا تھا اور یہ تھے خُدا والے |
| کسی نے جب وطن پوچھا تو حضرت نے یہ فرمایا | مدینے والے کہلاتے تھے، اب ہیں کربلا والے |
| حسین ابن علی کی کیا مدد کر سکتا تھا کوئی | یہ خود مشکل کشا تھے اور تھے مشکل کشا والے |

الله! الله! دا دے د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هٰغه شان، هٰغه همت، هٰغه حوصله، هٰغه صبر او اِستقامت د کوم سره چې هغوئي د کربلا ميدان ته تشريف يوړو، د داسې شان او استقامت سره هغوئي خپل ځان قربان کړو او هم دا د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هٰغه شان او استقامت دے کوم چې کربلا ژوندۍ ساتي۔

جس دھج سے کوئی مقتل میں گیا، وہ شان سلامت رہتی ہے
یہ جان تو آنی جانی ہے، اس جاں کی تو کوئی بات نہیں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عظيمه قُرباني، ځانګړے اِنعام

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له هم پکار دي چې د دِين په خاطر د قربانۍ د

1…سوانح کربلا، صفحه: 162 165 خلاصةً۔

2…تاریخِ مدينه دمشق، رقم: 1566، الحسين بن علي، جلد: 14، صفحه: 223 ملتقطاً۔

پاره همیشه تیار اوسو، چې کله هم د دِین د پاره د قربانۍ موقع راځي نو بالکل شاته نه پاتې کیږو، په خوشحالۍ سره، په استقامت او حوصلې سره، د ډیرې بهادرۍ او شان سره قرباني ورکوو، د دې چې به کوم انعام میلاوېږي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیم! مزې به مو وي- راځئ چې زۀ تاسو ته د الله پاک په لاره کښې د ورکړے شوې یوې عظیمې قربانۍ او په هغې باندې د میلاؤ شوي انعام په باره کښې وه وایم-

یو صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وو د کوم نوم مبارک چې **سَعد** وو او رنګ یې تور وو، یوه ورځ په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا زما د تور رنګ په وجه باندې به زۀ جنَّت ته نۀ شم داخلیدے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: آیا تۀ په الله او په رسول ایمان لرې؟ عرض یې وکړو: آؤ جي! زۀ 8 میاشتې مخکښې مسلمان شوے یم- اوئې فرمائیل: په خدائے مې دې قَسم وي! بیا ستا رنګ تا د جنَّت نه نۀ شي منع کولے- حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چې خبره داسې ده (تور رنګ جنَّت ته په تللو کښې خنډ [یعنې رکاوټ] نه دے) نو بیا ما له څوک رشته ولې نه راکوي؟

اوس اَصلي معامله واضحه شوې وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: تۀ د فلانکي صحابي کور ته لاړ شه! هغوئي ته ووایه چې د الله پاک رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو د لور نکاح زما سره کړې ده-

حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغه صحابي کور ته لاړو، د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پیغام یې هغوئي ته ورسولو، صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! فرمانبرداره وو، هغوئي چې پیغام واوریدو نو فوراً بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او د خپلې لور نکاح یې د حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره وکړه- بیا خوږ نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د پاره د پیسو بندوبست وکړو، هغوئي پیسې واخستې او خپلې بي بي له د څۀ خیزونو اخستو د پاره بازار ته لاړو-

اوس دا موقع د قربانۍ ده، پته نه لګي چې د کوم وخت نه به يـې پۀ زړۀ کښې د واده ارمان وو، نن هُغه ارمان پوره شو، د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوس اوس نکاح شوې ده، لا خپله بي بي يې ليدلې هم نه ده، پۀ بازار کښې يـې د خپلې ناوې د پاره څيزونه اخستل چې اِعلان وشو: اے خلقو! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جنګ د پاره روانيږي، ټول زر زر حاضر شئ- حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې دا اعلان واوريدو نو مخ يـې د اسمان پۀ لور کړو او اوئې وئيل: اے کريمه الله! زۀ به دا پيسې ستا او ستا د محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا د پاره خرچ کووم- هغوئي پۀ هُغه پيسو باندې يو اَس، يوه نيزه، يوه توره او يو ډال واخستو او عمامه يـې په سر کړه، د جنګ تيارے يـې وکړو او د اِسلامي لښکر سره يو ځائے شو- پۀ جنګ کښې شريک شو، ډير پۀ بهادرۍ سره وجنګيدو، ډير دښمنان يـې دوزخ ته ورسول، آخر د جنګ پۀ ميدان کښې يو اواز وشو: **سعد پۀ نيزه ولګيدو او هغۀ شهيد شو-**

دا قرباني وه، پۀ دې جنګ کښې خو به نور هم ډير صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم شهيدان شوي وي خو د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پۀ شان به چا خپله نوې راواده شوې ناوې پۀ انتظار نه وي پريښودې، پۀ زړۀ کښې به د خپلو ارمانونو غلې کولو سره شايد چې څوک نه وو راغلي، ځکه د هغوئي قرباني د نورو پۀ نسبت باندې ډيره مختلفه وه، د دې قربانۍ شان ځانګړے وو- پۀ دې عظيمه قربانۍ باندې هغوئي ته څۀ انعام ميلاؤ شو، لږ واورئ!

پۀ روايت کښې دي: چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شهادت نه خبر شو نو رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو فَرَفَعَ رَأْسَهٗ وَوَضَعَهٗ عَلٰى حِجْرِهٖ رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي سَر راوچت کړو او پۀ خپله جولۍ مبارکه کښې يـې کيښودو وَمَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ التُّرَابَ بِثَوْبِهٖ او پۀ خپلو کپړو باندې يـې د هغوئي مخ د خاورو نه صفا کړو او اوئې فرمائيل: مَا اَطْيَبَ رِيْحَكَ وَاَحَبَّكَ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ (اے سَعده!) ستا خوشبوئي څومره ښکلې ده، تۀ د الله او د رسول څومره خوښ يـې---!!

الله! الله! د حضرت سَعد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پهٔ نصيب باندې دې پهٔ زرګونو سرونه قربان وي، څومره ځانګړے نصيب يې دے، زمانه چې د چا د يو نظر ليدو د پاره ليواله ده، فرښتې چې د چا په دَر باندې د حاضرۍ خواهش لري، هغه د اوچتې مرتبے نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چا د اُمَّتي کيدو خواهش چې انبيائے کرام عَلَیہِمُ السَّلَام کوي، هغه د خدائے محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خپل صحابي باندې څومره شفقت فرمائي، چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي سَر پهٔ خپله جولۍ کښې کيښودے وو، پهٔ خپلو کپړو باندې يې د هغوئي مخ د خاورو نه صفا کوو نو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم به پهٔ هغوئي باندې څومره رَشک کړے وي---!!

خو دا انعامات دلته ختم نهٔ شول، پهٔ روايت کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وَژړل، بيا مُسکے شو او خپل مخ مبارک يې يو اړخ ته واړولو او اوئې فرمائيل: وَرَدَ الْحَوْضَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ د کعبے پهٔ رَبّ مې دې قَسم وي! سَعد حوضِ کوثَر ته رسيدلے دے۔

صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو وړومبے وژړل، بيا مُسکي شوئ او مخ مبارک مو يو اړخ ته واړولو، پهٔ دې کښې څهٔ حِکمت وو۔ اوئې فرمائيل: ما د سَعد پهٔ مَحَبَّت کښې وژړل او الله پاک چې سَعد ته کوم مقام عطا کړو، هغهٔ له چې يې څومره عزت ورکړو، هغي ته چې مې وکتل نو مُسکے شوم او ما وليدلې چې جنَّتي حُورې کومې چې د سَعد پهٔ نِکاح کښې ورکړے شوې، هغوئي پهٔ منډه د هغوئي خوا له راتللې، د هغوئي نه د حياء پهٔ وجه ما خپل مخ مبارک واړولو۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ده قرباني---!! او دا دے د قربانۍ اِنعام---!!

جس دھج سے کوئی مقتل میں گیا، وہ شان سلامت رہتی ہے
یہ جان تو آنی جانی ہے، اس جاں کی کوئی بات نہیں

1... تنبيه الغافلين، صفحه:353، 354 ملخصاً۔

# د خبرو غازيان

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به د دِين پهٔ لاره کښې څنګه قرباني ورکولې- خو آه! نن مونږ بهانې کوو ❀ زمونږ سره د دُنيا د هر يو کار د پاره وخت شته خو د دِين د خِدمت د پاره ❀ د قرآن او حديث زده کولو د پاره ❀ د عِلمِ دِين حاصلولو او نورو ته د رَسَوَلو د پاره راسره وخت نشته ❀ د خپل عيش او عشرت د پاره پهٔ زرګونو پهٔ لکونو روپۍ هم لګوو خو د دِين د خدمت د پاره د مال قربانولو لړ کښې مو زړهٔ درزيږي ❀ د خپلو صلاحيتونو استعمالولو سره خو ډيره دُنيا راجمع کوو خو د دِين د پاره خپل صلاحيتونه نهٔ وړاندې کوو ❀ د ځان قرباني خو غټه خبره ده، مونږ خو د وخت او مال قرباني هم نشو ورکولے--!!

تھے تو آباء وہ تمہارے ہی مگر تم کیا ہو...؟ | ہاتھ پر ہاتھ دھرے مُنْتَظِرِ فردا ہو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې نن مونږ غور وکړو! اخر هغه کومه يوه جذبه وه د کومې جذبې لاندې چې اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ داسې عظيمُ الشانه قرباني پيش کړه، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم قدم پهٔ قدم قرباني ورکړې- خبره هم دا ده چې ❀ هغوئې د اوچتې مرتبے کامِل ايمان والا وو ❀ پهٔ هغوئې کښې د ايمان جذبه وه او ❀ آه! نن سبا اکثر مسلمانان د ايمان د کمزورۍ ښکار دي ❀ د هغوئې مخې ته به هر وخت د الله او د رسول رضا وه خو افسوس چې نن سبا د مسلمانانو اکثريت اوس دې اړخ ته هډو توجه نه ورکوي ❀ پهٔ هغوئې کښې د الله او د رسول د مَحَبَّت جذبه وه خو آه! نن سبا زياتره مسلمانان د دُنيا پهٔ مَحَبَّت کښې غرق دي ❀ هغوئې د اعلىٰ کردار مالکان وو خو نن اکثر مسلمانان صرف د خبرو غازيان جوړ شوي دي-

❀ آه! افسوس چې مونږ د دُنيا پهٔ مَحَبَّت کښې ډوب شو ❀ د الله پاک د رضا د کارونو نه لرې وتو ❀ خپل ژوند مو پهٔ ګناهونو ککړ کړو ❀ او د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عامِل جوړيدو پهٔ ځائے مو د غيرو خلقو فيشن اختيار کړو

او خپل حالت مو بخپله خراب کړو- افسوس! ډیر افسوس چې مونږ د بے عملۍ په سبب د ذِلت او رسوایۍ ژورې کندې ته ډیر په تیزۍ سره غورځیږو-

| | |
|---|---|
| اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وَقتِ دُعا ہے | اُمّت پہ تِری آ کے عجب وقت پڑا ہے |
| جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے | پردیس میں وہ آج غریب الغربا ہے |
| ہم نیک ہیں یا بد ہیں پھر آخِر ہیں تمہارے | نسبت بہت اچھی ہے اگر حال برا ہے |
| تدبیر سنبھلنے کی ہمارے نہیں کوئی | ہاں ایک دعا تیری کہ مقبولِ خدا ہے |

## د ذِمّه وارۍ احساس پیدا کړئ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له په سنجیدګۍ سره د خپل کردار جائزه اخستل پکار ده ❁ په مونږ باندې لازم دي چې د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه وکړو ❁ په خپل ځان کښې د ایمان جوش پیدا کړو ❁ او دا ذهن جوړ کړو چې مونږ ته ضرور د دِین خدمت کول دي ❁ کاش چې ټول دا مَدَني مقصد اختیار کړي چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-** اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم!

د یو مسلمان په حیث که مونږه په خپلو ذِمه وارو پوهه شو، د الله او د رسول په مَحَبَّت کښې ډوب شو او د دې مَدَني مقصد په پوره کولو مو لاس پورې کړو نو اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! په دواړو جهانونو کښې به مو بیړۍ پار شي-

## د دواړو جهانو د سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُربانۍ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په ټوله دُنیا کښې د دِین خورولو د پاره به مونږ ته هم په خپل ځان کښې د قُربانۍ جذبه پیدا کول وي، د قُربانۍ ورکولو نه بغیر هیڅ هم نشي کیدے، وګورئ چې ❁ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِین د پاره څنګه څنګه قربانۍ ورکړې دي، د دې سوچ هم د لړزیدو د پاره کافي دے ❁ نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ډیر تکلیفونه ورسولے شو ❁ په لارو کښې ورته ازغي وغوړولے

شو ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ کانړو باندې ويشتلے شو ❁ تر دې پورې چې بد بخته کافرانو د هغوئي د شهيد کولو ناکامه کوششونه هم وکړه خو همت والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حوصله نۀ بائلله، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مسلسل کوششونو رنګ راوړو، ❁ کوم خلق چې دښمنان وو، هغوئي يــې د الله پاک پۀ فضل سره دوستان جوړ شو ❁ کوم چې يــې د سر دښمنان وو، هغوئي پرې ځانونه قربان کړل ❁ کومو چې به نور خلق د مسلمانيدو نه منع کول، هغوئي پخپله مسلمانان شو او د نورو د مسلمانولو پۀ کوشش کښې مصروف شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! نن چې پۀ ټوله دُنيا کښې د اِسلام کوم سپرلي دې، هغه د الله پاک پۀ عطا سره د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُم هٰغه کوششونو او د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د قربانو نتيجه ده-

حق کی راہ میں پتّھر کھائے خوں میں نہائے طائف میں
دین کا کتنی محنت سے کام آپ نے اے سلطان کیا

## د نيکۍ د خبرو د ښودلو فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! کاش چې مونږه هم د نيکۍ د دعوت پۀ خاطِر قربانو ورکولو ته غاړه کيږدو او ډير ثوابونه وګټو- اِمامِ ابو نُعَيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله چې اے موسیٰ! د نيکۍ خبرې پخپله هم زده کړۀ او نورو ته يــې هم وښايۀ ځکه چې زۀ به د نيکۍ زده کوونکو او ښودونکو قبرونه روښانه کووم د پاره د دې چې د هغوئي سره هيڅ قِسمه ويره نه وي- (1)

## د مبلغينو قبرونه به ځليږي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې روايت نه د نيکۍ د خبرو زده کولو او ښودلو اجر او ثواب معلوم شو- سُبْحٰنَ الله! خوک چې د سُنَّتو نه ډک بيانونه کوي، دَرس

1...حلية الاوليا، جلد:6، صفحه:5، رقم:7622-

ورکوي او اوري يې، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! د هغوئي خو به پهٔ مزو سر وي، که الله پاک وغوښتل نو ضرور به د هغوئي قبرونه د دننه ځليږي ، څوک چې د نيکۍ دعوت عام کوي، پهٔ مَدَني قافلو کښې د سفر پهٔ ذريعه د نيک اعمال ترغيب ورکوي، د سُنَّتو نه پهٔ ډکو اجتماعاتو کښې د شرکت دعوت ورکوي، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! د هغوئي قبرونه به هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور پهٔ برکت نُوْرٌ عَلٰى نُوْر وي-

قبر ميں لہرائيں گے تاحشر چشمے نور کے | جلوہ فرماہوگی جب طَلعت رسول الله کی

## جنَّت ته داخليدل او د تيرو ګناهونو کفّاره

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! هغه اِسلامي وروڼه کوم چې د عِلمِ دِين زده کولو پهٔ نيت پهٔ مَدَني قافلو کښې سفر کوي، د هغوئي د پاره جنَّت ته د داخليدو او د تيرو ګناهونو د کفارې زيرے دے- (1): د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: مَنْ غَدَا وَ رَاحَ وَهُوَ فِيْ تَعْلِيْمِ دِيْنِهٖ فَهُوَ فِي الْجَنَّةِ يعني څوک چې د خپل دِين د عِلم زده کولو د پاره سحر يا ماښام لاړ شي، هغهٔ جنَّتي دے- [1](2): پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: کوم ګس چې عِلم لټوي، نو دا کار به د هغهٔ د تيرو ګناهونو کفاره شي- [2]

## د دُنيا حاصلولو د پاره سفر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! لږ غور خو وکړئ چې نن سبا خلق د مال زياتولو د پاره د خپل ښار نه بَل ښار، د خپل ملک نه بَل ملک ته ځي ✿ د مور پلار ✿ خوئيندو وروڼو ✿ او د بال بچ نه پهٔ کلونو لرې پراتهٔ وي- آه! نن سبا د دُنيا حاصلولو د پاره زياتره خلق قِسما قِسم قرباني ورکوي خو د دومره عظيمُ الشان آجر او ثواب د زيري باوجود د الله پاک پهٔ لار کښې د يو څو ورځو د پاره پهٔ مَدَني قافله کښې سفر کولو ته تيار نهٔ وي-

1... حلية الاولياء، جلد:7، صفحه:295، رقم:10581-

2... ترمذی، کتاب العلم، باب فضل طلب العلم، صفحه:624، حديث:2648-

لږ سوچ خو وکړئ چې صحابهٔ کرامو، اهلِ بيتِ پاک او د کربلا شهيدانو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم د الله پاک په لار کښې څومره قرباني ورکړې دي، د الله پاک په لار کښې په سفر کولو کښې يې ښهٔ پوره حصه واخسته، دا هم د هغوئي د قربانو برکت دے چې نن سبا په دُنيا کښې په هر لور د دِينِ اِسلام سپرلي دي، بهر حال! يو خوا صحابهٔ کرام او اَهلِ بيت رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم دي د چا ژوند چې د دِين د سربلندئ د پاره وقف وو او بل خوا مونږه غافلان خلق يو د چا شپه ورځ چې صرف او صرف د دُنيا د ترقئ د پاره لګه چې وقف وي۔

مونږ له هم همت کول پکار دي، مونږ له هم د ايماني جذبې ثبوت ورکول پکار دي۔ اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول په ځانګړي انداز کښې د کربلا والؤ قربانو ته د عقيدت پيرزونې وړاندې کوي، د الله پاک په فضل سره د کربلا د شهيدانو د ايصالِ ثواب د پاره هر کال په **8، 9 او 10 مُحَرَّم شريف** مَدَني قافلې سفر کوي، تاسو هم همت وکړئ! د ايماني جذبې ثبوت ورکړئ او د کربلا والؤ د ايصالِ ثواب د پاره د مَدَني قافلې مسافر جوړ شئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِيۡم! د دِين او دُنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي۔

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
قرض ہو گا ادا، آ کے مانگو دُعا | پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو

د اِمامِ عالي مقام اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ او د هغوئي د ملګرو په وسيله دې الله پاک مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## "القرآن الكريم" ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن سبا کښې شمير مسلمانان کوم چې اينډرائډ (***Android***) يا آئي فون استعمالوي۔ اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د موبائل په ذريعه د

نيکو ګڼلو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem*** (القرآن الکريم ) دے- دا ايپلي کيشن په (***Android***) او ***IOS*** دواړه قِسمه ډيوائسز کښې په اسانۍ سره ډاؤن لوډ کيدے او استعماليدے شي، په دې موبائل ايپلي کيشن کښې ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو او د مختلفو قاريانو په اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوريدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کيدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کيدو سره په اسانۍ سره لوستلے کيدے شي-

زر تر زره دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله يې هم د قرآنِ کريم تلاوت کوئ او نورو له هم د قرآنِ پاک د لوستلو او اوريدو ترغيب ورکړئ-

يہی ہے آرزو تعليم قرآں عام ہو جائے | ہر اِک پرچم سے اُونچا پرچمِ اسلام ہو جائے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د اودس نه پس په جامو بدلولو اودس نۀ ماتيږي-

**وضاحت:** ❁ په عوامو کښې مشهوره ده چې په جامو بدلولو يا د ستر په ښکاره کيدو اودس ماتيږي- د اودس نه پس په جامو ويستو اودس نۀ ماتيږي او نۀ د ستر په ښکاره کيدو اودس ماتيږي ❁ البته بغير د څۀ وجهې ستر ښکاره کول چې خلق يې وه ويني ګناه ده، د نارينه د پاره د نوم نه تر د پنډو د لاندې حصې پورې ټول وجود ستر دے- (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]…کنز العمال، کتاب الصلوٰة، الفصل الاول، جلد:7، صفحه:134، حديث:19097 بتغير قليل-

# د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

## يَا سَمِيۡعُ

څوک چې 100 کرته يَا سَمِيۡعُ لولي او په ځغه وخت کښې خبرې نۀ کوي او د لوستلو نه پس دُعا وکړي نو چې څۀ غواړي بياموي به يـې- (1) اِنۡ شَآءَاللهُ الۡکَرِيم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

1...مدنی پنج سوره، صفحه:250۔